دافغانستان اسلامـــي جمهوری دولت
د ټــاکنــوخپلـــواک کميسيـــون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کميسيون مســــــــتقل انتخابات

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

**شمېره:** ۲۶- ۱۳۹۳

**موضوع:** د رأیې ورکونې د ۱۹۳۰ محلونو د تفتیش د پایلو څېړنه؛

**ځانګه:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء

**د غونډې نېټه او ځای:** د ۱۳۹۳ کال د چنګاښ ۱۴مه، (د ۲۰۱۴ کال د جولای۵ مه) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر.

**حاضر غړي:** ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلې ګلالی اځکزی، ښاغلی سریر احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلیمان حامد، آغلې لیلا احراري او آغلې شریفه زرمتی وردک.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د صلاحیتونو، دندو او تشکیل قانون د ۱۳ مې مادې، او د ټاکنو قانون د ۵۸مادې د حکمونو پر اساس پرېکړه وکړه چې:

1. د رأیې ورکونې د هغو محلونو رأیې چې د بیاشمېرنې په پایله کې معلومه شوه چې له ۶۰۰ څخه زیاتې رأیې په کې کارول شوې وې، بې اعتباره دې وګڼل شي.
2. د ننګرهار ولایت اړوند د رأیې ورکونې د ( ۰۶۰۴۱۰۹ او ۰۶۰۴۱۱۰ ) مرکزونو د ټولو محلونو رأیې دې بې اعتباره دې وګڼل شي چې د تفتیش په پایله کې څرګنده شوه چې د رأیو صندوقونه یې په ولایتي دفتر کې اصلاً موجود نه وو.
3. د تفتیش په پایله کې او د تفتیش د مسوولانو د نظریو پر بنسټ دې د رأیې ورکونې د لاندې محلونو د پایلو فورمې بې اعتباره وګڼل شي: **۱.** د کندهار ولایت اړوند د رأیې ورکونې د (۲۷۰۶۰۹۲ ) مرکز د ( ۲ او ۳ ) محل رأیې؛ **۲.** د زابل ولایت اړوند د رأیې ورکونې د( ۲۶۰۵۰۱۸ )مرکز د (۸ او ۱۰ ) محل رأیې؛ او ۳ . د پکتیکا ولایت اړوند د رأیې ورکونې د (۱۲۰۴۰۵۲ مرکز د رأیې ورکونې د ( ۳ او ۴ ) محل رأیې.
4. د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ اړوند د رأیې ورکونې د ۱۲۱۴۲۴۸، ۱۲۱۴۲۴۷، ۱۲۱۴۲۵۰، ۱۲۱۴۲۴۹، ۱۲۱۴۲۵۳، ۱۲۱۴۲۵۲ او ۱۲۱۴۲۵۱ رأیې دې د هغو تأیید شویو ریپورټونو پر اساس بې اعتباره وګڼل شي چې د رأیو صندوقونه له ټاکنو یوه ورځ مخکې ډک شوي وو.

| د پرېکړې مخالف | د غړیو نومونه | د پرېکړې موافق |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالی اځکزی | |
| | ښاغلی سریر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلیمان حامد | |
| | آغلې لیلا احراري | |
| | آغلې شریفه زرمتی وردک | |